**PHILADELPHIA GAS WORKS**
800 West Montgomery Avenue • Philadelphia, PA 19122

ګران پیرودونکیه،

د Philadelphia Gas Works (PGW) ټل هڅه کوي چې زموږ پیرودونکو ته د طبیعي ګاز خوندي او د اعتماد وړ خدمات وړاندې کړي. د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره موږ وخت په وخت اړتیا لرو د خپل ګاز میټرونو او لولې ته فزیکي لاسرسی ولرو تر څو وکولای شو میټر ولولو.

د طبیعي ګاز د خدماتو کرښه چې ستاسو د ګاز د میټر په ګډون دغه هستوګنیزې سیمې ته ګاز عرضه کوي، دا مهال پلټنې ته اړتیا لري. دغه پلټنه به د PGW د ټیکنېشن له خوا په وړیا توګه ترسره کېږي، او معمولاً یوازې 45 دقیقې وخت نیسي چې بشپړه شي. د دغه کتنې په جریان کې موږ باید ستاسو د ګاز میټر او لولې او همدارنګه نورو اړونده وسایلو ته لاسرسی ولرو تر څو وکولای شو خپله پلټنه بشپړه کړو. هر ډول خنډونه چې ښایي زموږ لاسرسی محدود کړي باید زموږ د تخنیکي ټیم له را رسېدو وړاندې لرې شي تر څو ډاډ حاصل شي چې پلټنه په بشپړ ډول او څومره یې چې امکان وي په چټکه توګه ترسره شي. سربېره پر دې، د کرونا وایروس (COVID-19) د رواني وبا له امله PGW د پیرودونکو او کارمندانو لپاره د احتمالي ګواښونو د کمولو په موخه د د ناروغیو د کنټرول مرکز (Center for Disease Control, CDC) له لارښوونو پیروي کوي. په ودانۍ کې د کار پر مهال به، د PGW تېکنېشن د شخصي خوندیتوب اضافي وسایل واغوندي چې په دې کې د مخ پوښلو مناسب ماسک، او نېټرایل لاسکشي شاملې دي. ټېکنېشن به همدارنګه ستاسو په کور کې له نورو کسانو څخه 6 فوټه لرې فاصله مراعاتوي او له ټولو فزیکي اړیکو څخه به ډډه کوي.

د لیدنې د وخت اخیستو لپاره **له دوشنبې تر جمعې پورې د سهار له 8 د مازدیګر تر 6 بجو پورې مهرباني وکړئ (215) 235-1000** ته زنګ ووهئ. د دغې مهمې موضوع په برخه کې ستاسو له همکارۍ څخه مخکې له مخکې مننه کوو.

په درنښت،

**Philadelphia Gas Works**